مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۳/۱۲/۱۰

# دلوی جنون سفر

چي د تاک لورته يې دومره مستي ورکړه

مايې خدايرو په همدې کي کمال ولید

ته يې غواړه په کعبه په بتکده کي

ما بېگا په میکده کي خوشال ولید

دلیدلوفرق د شیخ اورند خوگوره

شیخ يې کړه ويني، رند خپله جمال ولید

دغه دومره شوق سرور په گوټ اوبوکي

بې څه مه بوله، دوی خوند دوصال ولید

دا اوبه ندي د شوراوجنون کان دی

د دې هرڅاڅکی مي لار کي مشال ولید

د کلال لېته په عقل اوخِرد نه شي

چي مي خُم تش کړ ايله مي کلال ولید

اول لاړمه له خوده شوم بېخوده

بیا په حال د بېخودئ کي مي حال ولید

دا د لوی جنون سفریوازي نه شي

دې سفر ته مي ډک جام انډيوال ولید

په لېونکيه د پېټ لوري د پېټ یاره

جام اوچت کړه چي ښکاره ووینې لاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ